# غم هم په نڅا سو!

(تېولنیزي ناخوالي د طنز په ژبه)



Ketabton.com

لیکوال: سعدالله کاکړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کتاب پېژندنه


د کتاب نوم: غم هم په نښا سو

ليکوال: سعدالله (کاکړ)

د خپرېدو نېټه: عقرب ۱۴۰۱ هجري شمسي کال

کمپوز او ډيزاين: محمد ادريس (ثمين)

تصحيح: مسعود (ريښتين)

د پښتی انځور: مينه وال باچا


## يادونه!

له ډېر ګران ورور محمد ادريس ثمين څخه نړۍ مننه چې (غم هم په نښا سو) ته يې کتابي بڼه ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د لیکوال لنډه پېژندنه:**

ښاغلی سعدالله کاکړ د عبدالله زوی په ۱۳۷۱ هجري لمريز کال د کندهار ولایت په ۹ نهمه ناحیه کي د نورزو جامعې په کلي کي دې نړۍ ته سترګي غړولي دي.

د ښاغلي کاکړ پلرنی ټاټوبی د زابل ولایت شهرصفا ولسوالي ده.

کاکړ خپل لومړنی اسلامي زده کړي د خپل مسجد له ملا امام څخه او عصري زده کړي يې د کندهار ولایت په بولدک ولسوالۍ کي د غازي عبدالله خان اڅکزي په عالي لیسه کښي تر پنځم ټولګي پوري کړي دي، چې له بده مرغه يې د اقتصادي مشکلاتو له خاطره ونه توانیدی چې خپلي زده کړي سر ته ورسوي، نو ځکه يې شخصي کار ته اوړه ورکړه.

خو د ښاغلي کاکړ وطني او ملي ژوندی احساس دی، چې د قلم څوکه يې د ژوند د هري ستونزي هيڅ صندان ورماته نه کړه، ده د خپل قلم څوکه روانه وساتل او د پښتو ادب يو ادبي ژانر طنز ليکلو ته يې اوړه ورکړه، چې په دې سره يې د افغانانو پر شونډو موسکا راوستلي او ترخنګ يې د ټولنې ستونزي په طنزيه شکل سره بيانوي، چې د خلکو په زړونو کي د ځانګړې مينې او محبوبيت څخه برخمن سوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سریزه

خندا کي ژوند دئ!

انسان یو ټولنیز مخلوق دئ، د کایناتو ښښتن په خورا ښایسته داخلي او ظاهري شکل جوړ کړی دئ، د ځان ساتنه ئې پر لازمه کړې ده، نو ځکه انسان ښه ډېر د ځان لپاره کار کوي، خو بدبختي داده، چي انسان د ځان ساتني مفهوم غلط کړی، ټول ژوند ئې یوازي پر کار او ستړیا درولی دئ. دې ته ئې فکر نه دی کړی، چي خوښي او خوشحالي له کومه کیږي، د خندا قیمت څونده دئ او د ژوند په سختو او لوړو و ژورو کي څنګه خپل مخ په خندا ښایسته کړو.

انساني بدن او روان هیڅکله ددې توانایي نه لري چي ټول وخت دي کار وکړي، د هغه لپاره خندا او تفریح د موټر د تیلو په څېر کار کوي. نو ځکه خو باید و دې ته ښه پوره پام وکړو. نور و خندوو، ځان خوښ کړو او د ژوند پر هره لحظه خوند واخلوو، د ژوند کارونه په ګړندي کړو او د پیکه ژوند په رنګین کړو.

د تفریح کول، خندل او ځان خوښ ساتل فطري ده. خو دا خوښي او خندا باید دونده نه وي، چي له موږ څخه دین او الله له یاده وساتي. د کتاب و منځ پانګي ته په کتلو ښه سم ښکاري، چي موخه ئې یوازي د تشویشونو له منځه وړل، د خپګان ختمول او ستا پر مخ یو نری مسکا غوړول دي.

دا اوس چي تا و کوم کتاب ته سترګي شخي نیولي دي دا د همدې لپاره دئ، تر څو په خپل کار کي ستړی سې نو یو څو شیبې دي په خوشحاله کړې، که په درس ویلو اخته یې نو یو څو دقیقې د فکر بدلولو لپاره کتاب خلاص کړې، و مجلسونو ته تر تګ مخکي ئې ولولې او بیا په خپل خواږه انداز د مجلس ګډونوال په وخندوې، په کتاب کي را غونډې سوي ټوکي ټکالي، طنزونه او د خندا په نیت راټول سوي حقیقتونه ښه ولولې او د کورنۍ له غړو سره ئې شریکي کړې.

که په لنډ ډول ووایم، نو راځه چي خپل فکر خرابونکي فکرونه، مایوسه کونکي خیالات، مغز خرابونکي لویي او کوچنۍ خبري په ښه خندونکو خبرو له دماغ څخه و باسو، مخه ښه ورسره ووایو او خپل دا تروش و تریو تندیان په دې کتاب ښایسته کړو.

علی الله متوکل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لیکوال خبري

طنز د پښتو ادب یوه مهمه برخه ده.

عموماً طنز دوه قسمه خلک لیکي، یو هغه خلک چي په ډیره خوشحاله ټولنه کي وی یعني ډیر خوشحاله ژوند ولري، یو هغه خلک دي چي په ډېره غمجنه ټولنه کي وي او ژوند یې د کړاوونو ډک وي.

بدبختانه زه هم د یو داسي هیواد اوسېدونکی یم چي له تېري نیمي پېړۍ څخه د پردیو د جګړې ډګر پاته سوی دی. نو ما هم د هیوادوالو د دربدریو او ځینو ټولنیزو خرابو کړنو او بدو رواجونو په خاطر طنز ته مخه کړه. چي هم د طنز د لاري خلګو ته یو اصلاحي پیغام ورکړم او هم غمجن هیوادوال په خپلو لیکنو خوشحال وساتم، د دې سره په څنګ کي مي خاص هدف پښتو ژبي او ادب ته خدمت کول دي.

څرنګه چي نړۍ اوس د بېلابېلو انټرنیټي پوستغالو په مټ د یوې کورنۍ حیثیت لري، نو ما هم اول خپلي طنزي لیکني د فېسبوک له لاري را پیل کړې.

چي د ډېرو ملګرو او هیوادوالو د خوښي وړ وګرځېدې. ډېرو ملګرو تشویق کړم چي لا باید د پښتو ادب دې برخي ته کار وکړم. مګر ځیني خلګ داسي هم وه چي له مایوسی او توهین پرته یې بل څه را نه کړل.

ما هم خپل لستوني را ونغاړل او په دې برخه کي مي لا فعالیت زیات کړئ، چي د همفکره ملګرو په غوښتنه مي خپلي لیکني د یو کتاب په شکل را غونډي کړې او ستاسو تر لاسونو مي د کتاب په شکل در ورسولې.

انسان حتماً له اشتباه خالي نه دی، ما تر خپله وسه ډېر کوښښ کړی چي غلطۍ اصلاح کړم، مګر که چیري کوم ځای پاته وه نو زما یې غاړي خلاصي تاسي به یې راته په ګوته کوئ.

او په پای کي د هغو ټولو ملګرو څخه ځانګړې مننه کوم، چي د کتاب په لیکنه او کمپوز کښي یې مرسته راسره کړې ده.

دا یې تاسو او دا یې کتاب!

سعــدالله (کاکـــــړ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



### د خواهشاتو غلامان

زه وو پیرک د عطرو دوکان ته ورغلو، پیرک ته وام دغه عطر رانیسه چې استعمال یې کړي دا انجوني وو هلکوان به داسي درپسي لیوني وي .واي د مور شیدې ما هم دغسي شی غوښتی.

ماښام راغلی خوله یې پیخه نیولي ده واي ستا انډیوالي د خره سپرلي ده، چې د هر چا بغل ته به ورغلم هغه به ول ولاړ سه رزیله په د ا مردار مخ د پلار مرگ دي راپیاد کړی، د مړو عطر وه.

### د ماشومانو سره بي ادبي

پرون د جلال اکا کوټي ته ورغلي وو، کوچني لمسي یې خشنگي کوله جلال اکا ورته وای ستا د هغه څه وو څه، چې ته په نازیږې، جلال ورته وای ته په چا نازیږې؟

هلک هم ډیر حاضرجوابه وو ورته واي زه په تا نازیږم.

### د زنانوو چمونه

پیرک واي په ټکسي کي ناست یم، یو تور لباس لرونکي نجلی هم په ټکسي کي ناسته ده راته گوري زه هم ورته گورم، اخیر مي طاقت نه وسو سترگه مي ورته ووهله .چې سترگه مي ورته ووهل مخ یې لڅ کړی لوی ببر صوفي دی واي ولي سترگي وهي خبیثه، زه خراب درمعلومیږم.؟

واي ماول رزیله دغه ځای دي لا د خراب دی نر وو ښځه دي نه سره معلومیږي په تور دسمال کي دي سر پیچلی دی یوازي دي سترگي معلومیږي ماچې ویل انجلۍ ده.

### عبادت د دنیایي کارو لپاره

پښتانه پلرونه زامنو ته داسي نه وایي چي دا لمونځ کوه، د دوږخ د اور څخه به خلاص سي؛ بلکي داسي ورته وایې چې لمونځ نه کوي ولاکه په کار وو بار کي پرمختګ وکړي، ته د بازگل زامنو ته ورسه په لمانځه ټینګ دي پیسي یې نه سره راټولیږي، تاسي د یوې روپۍ په ارمان یاست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خرابه ټولنه

جلال اکا واي پښتانه ډیر مینه ناکه خلک دي، ورته وام هو مینه ناکه دي خو ناپوه هم دي.

واي یو مثال یې وړاندي کولای سي ورته وام بلکل.

زموږ د کور سره بلوڅان دي د هغو د کور یو کوچنی مي راوګرځوی ورته وام ولي په دا کوڅه کي دا بایسکل داسي بېباکه چلوې یو چکه مي ووهی، کوچني بخښنه وغوښتل : بخښنه کوه ماما موږ باندي ملامت یو.

ماول اوس ورته ګوره د سیدنبي کاکو زوی مي راوګرځوی یوه چکه مي ووهی ماول ولي دا بایسکل په کوڅه کي داسي بېباکه چلوي، وایې :خود یې چلوم ته وا ستا د پلار کوڅه ده خپل بایسکل مي دي ته وده زما اکا ته ووایم هغه قومندان دي ولاکه دی یوه خوا د پریږدي، ته یي پر کوچنیانو زده کوي رزیله.

جلال اکا ته وام څنګه سو واي بلکل پښتانه په اوس دور کي ترټولو پاته او بي تعلیمه خلک دي.

## پر ښځو تهمت لګول

زه وو پیرک په کوټه کي ناست یو، د جلال اکا رنګ ژړ دی راغلي طبیعت یي خراب دی، کښینستی شنه نصوار یي په پزه وکړه.

فکر مي وکړ چي ماینې یو دوه جاروګان وهلي دی.

ویل یې یاره ښځه ډیر رزیل ذات دی.

پیرک ورته ویل بلکل ته هم رزیل یي او د رزیلي ښځي زوي یي، جلال اکا وخښمیدی ویل یي چپ سه مردارخوره په دا مرداره خوله زما د مور نوم مه اخله هغه ملایکه ده، پیرک ورته ویل دا زه نه وایم ته وایي تا د ښځو ذات یاد کړی ستا مور هم ښځه ده.

ویل یي یو بد راځخه وسوه بالا مي پریږده پیرکه .

خبره مي دا کوله ښځه عاجزه ده یو وو نیمی د جارو واری کوي بیا نو ناپوه نارینه ټولو ته په یوه سترګه ګوري.

## بي پروا خلک

پیرک واي فلمونه مي کتل، شاته مي هنداره وه فکر مي نه وو، یو ساعت بعد مي پلار ول زویه اوس خورا لځ شیان ګوري، واي ماول زه دا ناروا کارونه نه کوم څو ښکنځله مي هم وکړه.

واي پلار مي ول زویه ما هر څه ولیدل شاته دي هنداره وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د غلا پیسي

پیرک ته وام رزیله ته هر وخت وایي چې د غلا پیسې هیچاته په ښه نه ورځي ، دا اقبال انجینر څومره د سړکونو  پیسې غلا کړي ولې یو څه نه  په کیږي، وایي ایا ته د اقبال انجینر رقم ژوند غواړې؟ زه زړه وو نازړه سوم، وایې زه به یې یو څو مثاله درکړم یوازې دا نه مانا چې په اقبال انجینر به یو چم کیږی، واې مور یې هره ورځ په شفاخانه کې پرته وي، لور یې وتښتیدل، کشر زوی یې زما رکم لنډغرو سره ګرځي .واې ته داغسې پیسې وو ژوند غواړې؟

ماول ورک سه احمقه!

ددې پیرک خبیث عقل ته حیران یم.

## د خبرو بد مفهوم

ورته وام دوکانداره بوغۍ لري؟

ویې خندل، اې ظالمه موږ ته کله کله ست کوه ناشتې یوازې کوې.

ورته وام د کوچنیانو د ساتیرې لپاره یې وړم.

مخ یې بد ونیوی ویې ویل نسته.خبره مې دا کوله چې موږ او تاسې هر څه چپه بیایو.

## د مجرد مرګ

واي اکا مې شهید سو ماما مې موټر ووهی وفات سو، پلار مې بندې سو، زه خپله موټر ووهلم پښې وو لاسونه مې مات سوه، دغو ټولو شیان دونده تکلیف ندې راباندې تیر کړې لکه د مداوزل اکا شپاړس کلن زوی میرامد چې مې په ګلپوشه موټر کې ولیدی.

## بېځایه شک

خاوند یې پر کټ پروت وو، میرمن چې یې خوني ته راغله، خاوند یې په توس کې پټ دی او خبرې کوي، اوف، ګرانې زه بې تا مرم هیله کوم سبا د خیره راووزه، میله به هم درکړم، کالي به هم در رانیسم.

پر میرمنې یې اور بل سو یو لنډ لرګی یې پیدا کړی، ورسره پورته یې کړ خاوند یې پر دا سر ووهی .

هغه چې راکښینستی در سر یې وینې ایله دې.

میرمنې ته یې وویل چې دا دې څه وکړه د احمق لورې؟

میرمن یې ورته وایې چې زما په شتون کې ته د نورو ښځو سره اندیوالې کوې اوس دې وژنم رزیله.

خاوند :وه د رزیل عیاله ټلیفون مې ګرسره په هغه بله خونه کې برق ته تړلی دې ما خوب لیدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سر ناخلاصه قاضي

په کاناډا کي یوه نفر هګۍ غلا کړې وه، غل ونیول سو کله چي یې محکمې ته وروستی قاضي وویل چې دا سړي دا کار د مجبوري څخه کړی دی .حکومت څلویښت زره ډالر ورکړه چي په دغه خپل کار ووبار جوړکړه.

په افغانستان کي یو نفر د هګۍ پر غلا ونیول سو کله چي یې قاضي ته وروستی قاضي بد بد ورته کتل ول خبیثه نا احله ته غلاوي کوي .

امر یې وکړی ول لس کاله په بند محکوم سوي، سل هګۍ جرمانه سوي.

څومره فرق دی، زموږ وو د نوري نړی ترمنځ.

## بد رواجونه

په پښتنو کي چي خاوند میرمني ته په درنه سترګه ګوري، یا د میرمني عزت کوي، د کورنی غړي یې بې ننګه او چاپلوس بولي، دا هم ورته ووایې واي ته بیخي بی ننګه یې، نر خو شامامد دی چې ماینه یې خبره ورته وکړي دی یې په دا سر کي ووهي.

حال دا چې تر شامامد به نو بل شین خر نه وي.

## بې ادبه شاګردان

استاد صنف ته راغلی، ویې ویل ټول خاموشه سئ.

هیڅوک نه خاموشه کیدل، ږغ وو بیر وو بار زیات وو، یوازي پیرک د صنف په کونج کي خاموشه ناست وو.

د استاد ورته فکر سو ویل یې راولاړ سه پیرکه، نورو شاګردانو ته یې وویل تاسي انسانیت د پیرک څخه زده کړئ، ما خبري کولې تاسي ټول ګډ واست پیرک چپ ناست وو.

پیرک ته یې وویل تا څه احساس کوی چې دوی فالتو شروع وه زما په خوله نه چپ کیدل.

پیرک خوله بنده نیولې وه، چړپ د استاد مخ ته یې نصوار توف کړه، ویل یې استاده ما څه نه سوه ویلای نصوار مي کړي وه.

د ځینو خلکو ږغول ښه نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پابجي اتلان

یاران سره ګډ دي واي ولا تا ناځواني وکړه وینه دي نه راکول، هغه بل واي په دا دوهم منزل کي ورته ناست وم، هغه بل واي هغه بیخي ډیر وه زما ملګري یې وویشتل، خو خاص د مړو وو توپکانو بحث شروع وو...

ورته وام ورونو دا په کم ځاي داسي خواري دربانده تیري سوي؟ بیخي ډیري قربانۍ مو ورکړې دي.

دوی وایې په پاپجي ګیم کي.

اول مي فکر کوی چي د امارت غټ خلګ دي.

نن سبا نیمایي ولس د ګیم اتلان دي.

## د ښځي په جامه کي نر

پرون په بازار کي را روان وم، ډیري خټي وې .

یوه ښځه را روانه ده لار مي ښه ور ایله کړل، ورته وام کرار خورکۍ چي غوځاره نه سي دا ځای ډیر خراب دی.

چي مخ یې را واړوی یو بریتور دی، سر یې په تور ګلداره دوسمال کي پیچلی دی .خلکو ګردو سره وخندل، ده بد هم یوړل وای زه تاته خور در معلومیږم.

په ځواني درته وایم دا د انجونو سټایلونه مه کوئ.

## سګوانان د ټولني مکروب دی

جلال اکا ته وام اکا بالا ولویدې سپین ږیری سوي، دا سګواني پریږده .او بل دا کار که ځوان کوي که یې سپین ږیري کوي چنداني کار ولاکه دی.

یو ګړی یې راته کتل، ول په دنیا کي هغه کوم شی دی چي انسان یې نه سي پریښولاي؟

ورته وام ډیر شیان سته مور او پلار دي ناموس دي کریبان دي.

ول ګوره ماینه پریښولای سم، سپیان وو سګواني نه سم پریښولای بل وار مه راته وایه.

بیخي نااحله دي، پښتانه به خاوري پرمختګ وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د بېځایه خبرو تاوان

یوه شپه یو ځای د جاپاني بانډار ته تللي وو، پر دوې بجې پیرک راته ویل ول درځه دا بانډار هم هیڅ خوند نه کوي یوازي د هلکوانو غزلي شروع دي.

ماول هو درځه بیخاره، چې راووتو در یو ځایه راغلو د عسکرو تلاشي راباندي پیښه سوه، ول چیري تللي واست ،دا وخت پیرک کجباسي ورسره کول.

هغه قومندان ته یې درد ورغلی، باره یې دواړه په مرداره چړی کي ودرولو، یو عسکر ته یې ویل ول ته ورته کښینه دوی دي داغسي در سهاره ولاړ وي موږ ځو حوزې ته.

ما وو پیرک هم داغسي ولاړ یو، دوه ساعته بعد مي ور ږغ کړل ماول انډیواله موږ به بالا ولاړ سو هغه ږغ نه کوی، بل وار چې ورغلم د دوکان مخ ته د یخي کونده جګه ولاړه ده خره ګونی یې پر اچولې ده د عسکر نوم لا نسته.

بیخي یې مایوسه کړو، چې راوختو پیرک د یخي کونده د ګونی سره چړی ته ورواچول.

## د ځینو لپاره پرمختګ

پیرک واي پښتانه د چا پرمختګ نسي زغملاي، د نوري نړۍ خلګ چې فضا ته وخیژي، هغوی یې تشویق کوي، موږ چې بام ته په کوترو پسي وخیژو ګرده همسایه ګان مو ښکنځل راته کوي .واي د کوترباز زو که درغلو ولا زړه دي در پټاو کړو .

کوتربازان هم ځانونه د پرمختګ والا په خلکو کي حسابي.

## بي تربیي خلګ

جلال اکا یو چاته ګډ دی، واي دا زما زوی غني د زمبور همزولی دی.

زه هم ورغلم ورته وام اکا زه د چا همزولی یم، د طالبانو د اول حکومت څخه یو کال مخکي پیدا سوي یم.؟

واي ته د شین ګل همزولی یې او شین ګل مړ سو.

د وراره څخه مي یې پوښتنه وکړه، ورته وام دا زمبور وو شین ګل څوک دي؟جلال اکا واي شین ګل مړ سو، زمبور ژوندی دی.

وراره یې واي دواړه د جلال اکا سپیان وه، شین ګل په صحي مانا جنګي سپۍ وو.

د پدر لعنته زوی سګوان دی، زه یې د سپي همزولی کړم.

سګوانان د خپلو سپیو او اولادو عمرونه یو رکم حسابي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خارجي رواجونه

نجلي :سلام ګرانه !

زه مور کیږم او ته پلار کیږي.

هلک: دا څه وایې؟

نجلی: هو هغه د ویلنټاین په ورځ چې مو سره ولیدل.

هلک: د احمق لوري په هغه ورځ خو زما سره زموږ د کلي سات مامد هم راسره وو .

د ویلنټاین سره خو دغسي کیسي هم تړلي دي.

(هیله ده دغه کیسي زموږ په کلتور کي نسته.)

## ښکنځلماران

پیرک وایي :زموږ د کور سره په دا هدیره کي روان وم د ځان سره مي میده میده دا غزل ویل:

ښایسته کندهار ډیر ډیر یادومه.

وای د هدیرې ملنګ راپسي را ږغ کړل ول زویه، خورا دي طبیعت برابر دی.

واي ما ور ږغ کړه ما ول ته یې هم برابر که زویه.

واي ملنګ ول ته ودریږه خبیثه

ماچې وځغستل پښه مي په پایڅه کي بنده سوه غوځار سوم، ملنګ راغلی د بوټونو سره راکي غورځیدی.

کله کله د انسان په ډیره بیداري کي شپه سي.

## بي مفهومه خبري

د پیرک پلار خلګو ته کیسه کول ول : په سیاست نه پوهیږم، په شنو چاي خوړلو او ګپه کي نو پول تکړه یم.

پیرک ول هو دا هغه کیسه ده:

یو نفر ته یو چا ویل ول ماته یو دانه اس را رانیسه، وایي هغه ورته ویل ول په آس نه پوهیږم د خره نو زوي یم.

موږ ګردو سره وخندل.

د پیرک پلار په پیرک پسي د بوټ واری وکړی، ول اوس دي زه د خره زوی کړم .

اول یو څه مطالعه کړئ بیا یې ووایاست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مېسجانو عاشقي

پیرک :سلام ګراني !

نجلي :علیکم سلام ګرانه، په دغه جوړه کي زه څنګه ښکارم؟

پیرک :ته شهزادګی یې زما د زړه دنیا په تا ودانه ده.

پیرک :ګراني زه په دا توره جوړه کي څنګه ښکارم؟

نجلی :واه ګرانه واه، په شنه چمن کي د ګلانو په منځ کي غټ پټ ناست یې خاص د شیر اکا د خره په څیر ښکاري .

پیرک :ارمان مي هغه کارډونه دي، د سپي لوري بیا ماته ټلیفون مه راکوه ورکه سه.

د اوسني او فیسبوکي عاشقانو یو بل ته تشویق او احترام .

## فیسبوکي سیاسیون

یو ځوان چې په فیسبوک کې سیاسي لیکني کوي، زموږ سره ناست دی غټي، غټي کیسي کوي وایي زما سره یې په سیاست کې څوک نه سي کولای، زما هر پوسټ ځینو ته یو چپلاخه ده.

په دغه حال کي یې کشر ورور راووتی وایي اغا! دی په ډېر غرور ورته واي څه وایې؟

ورور یې ورته وایي: مور ویل ته ودریږه چي پلار دي راسي ورته وایم چي ده د کور د سودا څخه یې پیسي غلا کړي دي په هغه پیسو فیسبوک ته کارډونه ورجمع کوي.

پرون دي هم سودا کمه راوړي وه، نن دي هم، موږ د هغه دوکاندار څخه پوښتنه وکړل د کم دوکاندار څخه چي ته سودا راوړې.

نه مځکي خوله کول، نه زموږ سیاسي فیسبوکي ملګري په ننوتی.

(د اوس زماني ځیني فیسبوکي سیاسیون.)

## په بحث کي بې ځایه ګډون

پیرک موږ ته کیسه کول ول ډېر احتیاط به کوئ، زما د ماما زوی موټرسایکل ځغلوی، بېباکي یې کول ټکر یې وکړی زړه کي پټاو سو مړ سو .

د کیسي وروسته ما ورته وویل:

د ماما زوی خو دي خوږ نه سو؟ ګردو خلګو پر وخندل.

پیرک ول زه د احمق زوی یم چي تاته کیسه کوم.

زه درته وام زړه کي پټاو سو مړ سو او ته راته وایي چي خوږ خو نه سو.

موږ او تاسي کله کله په کیسه کي سوچ نه وهو، مازي یو خبره کي وکړو وار تیر کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### بې ځایه رواجونه

پیرک ته وام په افریقا کې داسې رواج دی، هلک ته ټینګ وهل ورکوي، که یې ناري کړې واده نه ورکوي او که یې ناري نه کړې واده ورکوي .

ورته وام ته به څنګه سې؟ واي انډیواله وهل او ټکول پریږده، چې شل واري لاس او پښې را مات کړي لا ولاکه ږغ وکړم، خو هسې دې واده راوکړي .

زموږ د ټولنې بدو رواجو ځوانان هر څه ته تیار کړي دي.

### د بچه بازانو فکر

ملاصاحب نصیحت کوئ، ول مسلمانانو ورونو د یو څو دقیقو خوند لپاره خپل ایمان دلاسه مه ورکوئ، ایمان مو د سره ځې دوږخ درکول کیږي.

پیرک پر ورولاړ سو ول ملاصاحب ولاکه مې ددا تیري جمعې د شپې راهیسې پر چا ګنده خلاصه کړې ده .

ملاصاحب ول کښینه خبیثه لواطت کاره، زما اشاره شرابیانو ته وه وام شراب مه چیښئ، ته در هغو لا غټ رزیل یې .

مجرد لکه مچ په هره کاسه کې لویږي .

### د خراپو خلکو فکر

پیرک وایي کله چې دا ځیني هلکان انجونو ته ګوري، دوی دا فکر کوي چې در ما نو بل ښایسته نسته.

خو د انجونو په فکر تر ده بل خر نسته .

### د جماعت غله

د جماعت د لمانځه ثوابونه او ګټې مو سره بیانولې، پیرک راولاړ سو ول هو د جماعت د لمانځه اوله ګټه دغه ده، ولاکه مې په ژوند پر چپلانو پیسې ورکړې وې.

ځینو ته غلا ګناه نه؛ ګټه معلومیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بې رنګه مریضان**

ډاکټر :څه درسوي دي؟

مریض :موټرسایکل وغورځوم .

ډاکټر :ونیسه پرتوګ دې وباسه.

مریض :ډاکټرصاحب سر مې مات دی.

ډاکټر :ته چینجیان لرې نو اول دې باید دهغه علاج دروکړم.

زیات موټرسایکلانو والا دغه مریضي لري د بل ژوند ته حساب نه کوي .

**مناسب نوم**

پیرک داسې تلواري روان ؤ

زه او جلال اکا نارې پسې وهوو؛ چې راسه !چای راسره وچښه.

وايي یا څم !یو د ماما زوی مې په روغتون کې پروت دئ ځان غودي یې کړې ده

وام ځان غودي بیا څه مانا ؟ وايي :خپل ځان یې پخپله خراب کړی دئ .

زه او جلال اکا ورته وایو چې هلکه سم مو پوه کړه!

ځان غودي چیښي ته وايي؟

وايي: موټر سایکل یې ځغلوئ ټکر یې کړی دی.

هر هغه څوک چې بې ځایه موټر سایکل ځغلوي.

هغه ته زه ځان غودي وایم.

**بې قدره اولاد**

یوه ورځ ما او پیرک یو سپک ټکر وکړ.

عسکرو بندیان کړو.

په محبس کې پیرک ته وام سترګې دې چاته دي؟

وايي :زه نو په دې دنیا کې بل څوک لرم؟ سترګې مې دوو انسانانو ته دي.

فکر مې کوئ چې مور او پلار رابښيي.

دئ احمق وايي اول مې سترګې د کرم اکا زوی سیدولي ته دي

دوهم مې؛سترګې د خان ګل اکا مشرې مېرمنې ته دي.

په مجردانو کې سخت د مور او پلار دوښمنان سته .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د روژې تاثیر د خلکو خراپ فکر

پیرک واي پېشلمی مې نه ؤ کړی مسجد ته ورغلم!

ملاصاحب راته وایي پیرک خانه !روژه څنګه ده؟

ماویل ملاصاحب!ډېر تکړه یم ولاکه دا وایم چې روژه ده.

ټول یو بل ته ګوري، خاندي، زما هېڅ سر نه خلاصیږي چې څه خبره ده؟

پلار مې بد بد راته ګوري.

یو وخت چې مې ځان ته وکتل د مور چپلکې مې په پښو دي.

پلار د کوره پسې واخیستی ، ورته وایي زما د ماینې چپلکې دې په ګرده کلي ولیدلې.

جماعت ته د تلو یا بازار ته د وتو په وخت کې خپل راسته پرتوګ او څپلیو ته ډېر پام کوئ.

## د بې عقلانو دردونه

سیدګل وایي ځیني دردونه انسان وژني.

پیرک وایي هو ځیني دردونه انسان بېخي تبا کوي .

جلال اکا وایي هو ځیني دردونه تر مرګ هم بدتر وي انسان فلجوي.

سیدګل واي :چي اکا مي شهید سوی دی ولاکه مي ښه ورځ لیدلي ده.

پیرک وایي چي د خان ګل اکا مشره، کور والا راڅخه خوابدې سوې ده خیر مي ندی لیدلی.

جلال اکا وایي چې شین ګل مړ سوی دئ ولاکه مي بیا په سکوانی کې ښه ورځ لیدلې ده، شین ګل د جلال اکا سپی ؤ .

ماویل د احمق زامنو یوه خپل سپی هغه بل خپله انډیواله د هغه د مړه اکا سره سم کړل...

سیدګل بد بد کتل ول زه د خره زوی یم چي تاسو ته د زړه درد بیانوم .

هغوی هم دلته خپل غم بیانوئ که څه هم د انسانیته وتلي وي

## د ښکنځلو نتیجه

پیرک ته وایم څنګه یې د روژې سره؟

وایي داسي تږی یم لکه د خره زوی.

د پیرک پام نه وو دا بغل ته یې پلار ناست وو .

څو د چمپلانو وارونه یې پسي وکړل، ویل چي بیا کور ته رانسي .د احمق زوو.

کله ،کله شا وو خوا ګورئ چي چټیات وایاست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پېشيني کنجوس

پيرک راته وايي نس ته هره ورځ دوکه ورکوم.

ورته وام هغه څنګه؟

وايي يو د منيسټر خالي دبلی مې پيدا کړی دی.

کله چې مې نس د منيسټر غوښتنه راڅخه وکړي اوبه ورواچوم چښم يې .

هم پيسې په جيب کې راپاته سي ، هم نس آرام کړم ،هم مې حريفانو ته پايه چاغه وي.

ددې دورې باټک مخلوق دغه هم يو بريا بولي.

## بې فکره خياط

پيرک وايي :د خياط څخه مې کالي راوړه .

پلار مې؛ ويل زما کاليو ته پرتوګاښ ورواچوئ زه سهار وختي جماعت ته ځم .

برقونه نه وه تاريکه وه پرتوګاښ يې ور اچولی وو.

سهار په جماعت کې ولاړ يو ګرده خلګ پر بابا خاندي .

چې ورته ومې کتل کميس يې يو رکم دئ،پرتوګ يې بل رکم دئ .

وايي اوس بابا نه دريږي وای زه پر خياط عرض کوم.

خياطان دي لږ ځان اصلاح کړي يوازي د پيسو ګټل هم مهم نه دي .

## سيستيماټيکه نړۍ او غل

يو ځای ميلمانه ۇ کور والا چې ووتل پيرک مېوه په جېبو کې اچوي ، ورته وام مه کوه هلکه بد کار دی، وای دا ورځې هم تېرېده لري ولا ارمان خو وکړو.

ماويل سمه ده.

بله ورځ پيرک راته وايي سخت مايوسه يم ، ورته وام ولي ؟وای هغه کور واله خندل عکاسي يې ښکاره کړه .

ددې کور کوټو بيا امنيتي کېمرې درلودې زموږ پام نه وو ورته .

د پيرک عزت يې ور سلاته کړی

په دا سيستيماټيکه نړۍ کې ډېر احتياط کوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## همجنس بازان او عاشقي

پيرک سخت غمجن دئ.

ورته وام ولې داسې غمجن يې؟

وايي حالت مې ډېر خراپ دی.

د عاشقۍ غمجنې کيسې هم راته کوي،ورته وام هلکه کور دي يو مشکل دئ ، واي کاش چې په کور کې مو يو مشکل وای

ورته وام د عاشقۍ او جدايۍ کيسې ډېرې کوې  عاشق سوی خو به نه يې ؟

واي هو داغسې يې وبوله !غوټ يې مات کړم هېڅ لار نه راسره وړي نور د خدای څخه مرګ غواړم.

ورته وام ادرس يې راکړه چې کور ته يې مرکه ورواستوم ،پلار او مور ته به يې زارۍ وکړو يا به سپين ږيري ورواستوو ، وايي ياره د مرکې کار يې نه دئ .

د هاشم نانوای پر زوی نورمامد عاشق يم.

بند که ماول احمقه چټيات !بچه بازان او هلک بازان هم ځان ته عاشقان وايي.

## بد رهبر

يو پنجابي ته مي د يو ځو انجونو يو ځو ويډيوګاني ور واستولې، غوښتل مي چي دوو يې کړم، ماول ستاسي وياړونه وو قدرونه دغه دي.

هغه د ها خوا د سياف، ګلبدين او نورو عکسونه راواستول ول ستاسي قدرونه بيا دغه دي .خدا وو راستي ډير يې مايوسه کړم.

دايې رهبران په شرميږو.

## د پير په نوم ټګان

پيرک د پالګر په نوم يو ټګ ته خپله مور وروستل، ورته ويې ويل شيخ صاحب ته يې پال وګوره.

پالګر :خوري ستا په قصمت کي يو ښه او تعليم يافته هلک سته تشويش مه کوه، په دا مياشت کي به دي کوزده ورسره وسي.

پيرک :د ټګ زو دا مي مور ده، که يي ميره خبر سو، ستا سره مي وژني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ددي دورې عاشقان**

يوه ورځ يې ويل چې زما ملګرې وديږي، زه هم شايد سبا ځان وژنه وکړم.

څو ځو ورځي وروسته يې د هغې ملګري په واده کي روش وخوړی .

تيغ يې راوکښی، پر شوندانو وو بريت يې لاس تير کړی، هغه غوږ لاس يې پر مخ پسي تير کړی، غوږ لاسونه يې سره ومو‌ږل .

ول پر پدر يې لعنت، سخته روش يې پوخ کړي وو، دوښنيمي ډوډۍ مي ورسره وخوړلي .

**فيسبوکي عاشقان**

پيرک واي يو انجلي ته مي مسج وکړی، ويل يې ته ماته څه راکوالای سي.؟

ما ورته ويل زړه درکوالای سم، خپل ژوند درکوالای سم، ستا لپاره دري نفره په چاکوګانو وهلای سم.

ويل يې په دا کارو کي هيڅ مه کوه، يو دوه نيم سوه افغان بيسيم کارډ راواستوه.

چې دا خبره يې راته وکړل بلاک مي کړل.

**بې ځايه ګډيدل**

پيرک ته وام چې نيم ساعت يا يو ساعت نه وي، ماته خوند نه راکوي.

دی واي هو زما په يوه دقيقه کي حالت خراب سي.

ورته وام ته چشي ښيي؟

واي بل نو چشي سته نژدېکت دربښيم .

ماول خبيثه زه د نصيحت ويډيوي ښيم.

خوله يې پيخه ونيول.

د ځينو پر ديماغ سمه خبره بلي خواته ځغلي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بي ځایه خواهشات

د یو ملګري سره ټلیفون کوم، وام څنګه سو هغه دوا کار وکړی، وای هو شکر دی اوس دغونده ښه دی مریض مو.

زه د هغه سره په ټلیفون اخته یم، جلال اکا شله سو، ای ناځوانه موږ ته یې هم راوښیه، دا چمونه مه کوه کار خراب دي، چې دا ورنژدې سم کار مي خراب سي .

چې ټلیفون مي خلاص کړی، ورغلم جلال اکا د ډیرو خلګو سره ناست دی، ماول ګرده غوږ ونیسئ، وام دغه جلال زما نفس راتنګ کړی دی.

خلګ وایي ولي؟

وام یو چاته مي د معدې دوا وراستولي وه، زه د هغه سره په ټلیفون اخته وم جلال راته شله سو، ول دغه د جنسي طاقت دوا ماته هم راوغواړه.

د ګردو په مخ کي مي هغه نفر ته زنګ ورووهی، ماول وروره ما تاته چیش درواستوی، هغه ول د معدې دوا وه کور دی ودان.

ګردو پر خندل جلال اکا خوله پیخه نیولي وه.

عجبه خلګ مو دي، ته به په بله موضوع اخته یې، ددوی فکر یوازي په جنسي خواهشاتو کي وي.

## ظالم خواهشات

پیرک وای په بازار کي مي یو  ښایستې ته سترګي وهلي!

یو ګړی بعد چې را روان سوم یو نفر مخ ته راته ودریدی، ول ولي خبیثه د بل انجونو ته سترګي وهې، وای ماول ستا  ماغزه خراب دي د ځان علاج وکړه.

ول نه یې منې واي ما ول یا.

 ټلیفون یې د جیبه راوکښی عکاسي یې راښکاره کړل، ول یا به زما خدمت کوي یابه قومنداني ته راسره ځې.

واي ماول وروره خدای وو قران ته وګوره چاته مه وایه.

اوس هره ورځ زنګونه راوهي واي د ۵۰۰ افغانی کارډ راواستوه.

د حلالو یې خلاص کړم، خرکوس د بامه عکاسي راځخه کړي وه .

نن سبا ډیر عزتونه موبایلو لوټ کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بې قدره انسانان

پیرک ته وام پلار هغه څوک دی چي ستا لپاره ټول ژوند قربانوي، ستا سرنوشت ټاکونکی، ستا د ارمانونو پوره کوونکی او ستا د ژوند څیراغ دی.

واي یا وروره غلط سوي، ورته وام ښه ته راته ووایه پلار څوک دی؟

واي زما لپاره پلار هغه څوک دی چي زه یوازي پروت یم او دی مي د مور سره په ګرمه خونه کي جوړه پروت وي، پلار هغه څوک دی چي خپله ټوله شپه په ښه ګرمه بیستیره کي لاس درغاړي پروت وي

ته په کوټه کي د خره په څل کي پروت یې او پلار هغه څوک دی چي بیکاره دي ووینې لکه بني اسرایل چي یې داسي بد درته ګوري.

دغه نقطي یوازي د مجرد په دیماغ کي وي پلار هر څه دی.

## د جنګ شوقیان

د پیرک په بازار کي جنګ سو، هغه خلک ډیری وه، ما ګواښ شروع کړی پیرک ته یې ډیر وهل ورکړه، چي جنګ خلاص سو د ګردو خلګو په مخ کي یې راته ویل ول ستا انډیوالي د خره سپرلي ده.

ورته وام ولي؟

واي ته داسي مثال لرې لکه د یو چا سره چي په جنګ کي مور ورسره وي.

ماول جنګ دي ورک سي موږ سوله غواړو.

## جعلي پیر

زه وو پیرک د پیرصاحب دربار ته ولاړو، پیرصاحب ویل څوک چي زما سره چم وکړي راته شرمینده کیږي، مریدانو یې ورته ژړل.

زه وو پیرک چي راووتو پیرک راته ویل ماخو د پیرصاحب ټلیفون را غلا کړی دی.

ما ویل دا څه کوي د احمق زو بیرته یې وروړه په غرق به مو کړي، پیرک ویل ولاکه یې وروړم چي ځای پر ځای دود وو باروت کیږم.

یوه هفته یې وسوه په پیرک هیڅ ندي سوي .

زیات پیران یوازي د امتیازاتو لپاره پیران جوړ سوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د واک څخه غلطه استفاده

پیرک د کلي د ملګرو سره جنجال وکړی، ورته ویل یې تاسي صبر وکړئ رزیلانو، په واده کي یې د دروازي مشر زه ټاکلی یم، هر یو جلاجلا رامعلوم یاست، ولاکه یو لا د ډوډي څکه راڅخه وکړئ.

بله وظیفه یې هم راکول ما دغه وظیفه په خوښه ورڅخه واخیستل ستاسي لپاره.

موږ تل د زور او قدرت څخه غلطه استفاده کوو.

## د پیر په نوم ګټه

زه وو پیرک پر موټرسایکل سپاره یو، د عسکرو تلاشي راوګرځولو.

پیرک ته واي دا د رنجر ارن دي ولي وربسته کړی دی؟

پیرک ورته واي دا موټرسایکل ما نوی رانیوی.

هغه ورته واي دا لمر ته دوه ساعته کښینئ داغه مو سزا ده.

پیرک په ډیره چالاکی ژړه غوني اواز او په مات زړه را روان سو، زه یې پر لاس مچ کړم د عسکرو مخ ته راته واي اغاجانه ستا قربان سم، تاته به زه یو زرنج راوګرځوم ته درځه زه به دلې پاته سم.

عسکرو یو بل ته سره وکتل پیرک ته یې ویل دا څوک دی؟

پیرک ورته ویل دا د سید مهتاب الدین اغا زوی دی دده قربان سم.

دوه عسکر راولاړ سوه زه یې پر لاس مچ کړم ویل یې اغاجانه بخښه به کوي غلطي راڅخه وسوه.

پیرک ته یې پنځوسی ورکړی ول آغاجان ته ژر پیپسي راواخله، ورته ویل یې ژر کوه موټرسایکل دي چالان که آغاجان ژر ورسوه اوس به مو په دود وو باروت کړي.

سخت ډیر مو وخندل.

افغانان در هر چا د پیر تابع دي.

## د ټولني د تباهي هنرمندان

پیرک جلال اکا ته وایي واي نن سبا دا پلانی د کندهار بلبل دی، جلال د کوټي په کونج کي ناست وو سر یې راپورته کړ، نصوار یې توف کړه د اوبو منګی ورته پروت وو اوبه یې په خوله وګرځولې پر ږیره وو شونډانو یې لاس تیر کړی، ول په کندهار کي یو بلبل وو مړ سو هغه عبیدالله جان وو، هر خر راته په بلبل مه تیروه.

چي څوک دغه احمق د کندهار بلبل بولي هغه هم خر دی.

پیرک ته یې ویل ول هو دا منم دا د ډر مخلوق بلبل دی.

پیرک یې د دوو پیسو کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### د فخر پر ځای شرم

پیرک واي په مکتب کي معلم صاحب یو کوچنی خط راولیکی، راته ویل یې چې دغه دي ماښام پلار ته ورښکاره کړه.

زه که څه هم په خط نه پوهیدم خو ډیر خوشحاله وم فکر مي کوی چې په خط کي به زما ستاینه سوي وي، ماخستن چې مو د کورنی ټول غړي سره یو ځاي سوه، ما هم خط په ډیر غرور راوکښی پلار ته مي ونیوی، ورته مي وویل چې دغه خط معلم صاحب راکړی.

پلار مي خط زما اکا ته ونیوی ول دغه ووایه، زه نو انتظار یم د یوې خوا غرور د بلي خوا په بریتو کي نرۍ موسکا.

اکا مي خط شروع کړي.

خط په دا ډول وو:

ددغه هلک ماغزه د خره دي بل وخت یې مه را استوئ، په ژوند یې ولاکه زده کړي.

د کور ټولو انسانانو سره وخندل، پلار مي د چمپلانو واري راباندي شروع کړه.

د هغې ورځي څخه مي د مکتب څخه زړه مات سو.

### د ټلیفون څخه غلطه استفاده

پیرک واي په ټلیفون اخته وم په کور ننوتم، پر پرش کښینستم ږغ مي وکړی ماول راواچوئ یو ګیلاس چاې د احمق زامنو.

ددغه ږغ سره یو نفر په نس کي راوغورځیدی، ول د چا یې د رزیل زو.

چي ومي کتل د همسایه په کور ننوتلی وم.

دې ټلیفون هم ډیر خلګ په غزب اخته کړه.

### د درواغو مزل

پیرک ته مو کوزده ورکول، خُسر مو یې پیدا کړی ښه ډیر صفت مو ورته وکړی، ویل یې هلک څه کار کوي؟

مور ورته وویل کاروبار نه کوي اتلس کلن دي یو کشر حافظ دی سبقان وایي.، په دغه وخت کي د پیرک پلار راغلی ویل یې زما ډیر ښه زوی دي.

د پیرک عکس یې د جیبه راوکښی ویل یې په یوه خوا نه دی پاته.

هغه نفر مور ته بد بد کتل ویل یې ولي تاسي خو ویل کشر حافظ دی.

دا زه پیژنم هره ورځ یې د جلال اکا سره سپیان روان کړي وي، ولاکه لور ورکړم چي اور ته یې وراچوم.

په شرمو یې وشرمولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بېځایه شوق

پیرک واي د کور ښځه راووتم، دا غزل زمزمه کوم :ماته جانان ووایه

په دغه حال کي د مامدین اکا میرمنې راباندي را بړغ کړه، ول ورک سه د رزیل زو چې خره ته په جانان وایم تاته ولاکه ووایم.

ماول هر ځای زمزمي مه کوئ.

## بي فکره کارونه

د جمعي په ورځ پیرک ته زنګونه وروهم وای په حمام کي یم وام راځه په میله ځو، ما هم لږ تلوار وکړی، چې راووتی هر یو چې پیرک ته وګوري په غوږو کي پوس پوس لري سره خاندي.

پیرک واي پر پدر یې لعنت نیم ښار راباندي خاندي.

ورته وام رنګ دي د خډل دی، خو خیر ولاړو یو ځاي ډول دی ډول ته ورغلو چې ګورم خلګ اتڼ ته نه ګوري پر پیرک خاندي

وروسته چي مو وکتل پرتوګ یې چپه اغوستی دی.

## د مجبورۍ ښځه استفاده

جلال اکا وو پیرک سره خوابدي سوي وه، ما ډیر کوشش وکړی چې سره پُخلا یې کړم جلال اکا نه منل، پیرک ته ماول اشنایه زما دا نه مني، پیرک ویل زما یې چم زده دی.

پیرک ورته بیداره وو کله چي جلال اکا تشناب ته روان سو پیرک ورغلی د تشناب په دروازه کي ورته ودریدي، ول ولاکه راځخه ننوزي چي جوړه ونه کړي، جلال اکا یو دوي دقیقي ځان دوري دوري کړي اخر یې سر خلاص سو چې ولا کار خراب سي.

د پیرک سره یې جوړه وکړه پر مخانو یې سره مچ کړه، پیرک هم تشناب ته د تګ اجازه ورکړه.

د پیرک عقل ته حیران یم.

## بد خلګ هم ځان ښه بولي

انور ماما په کوټه کي ناست وو، د جلال اکا سره یې د را رواني سګواني او سپیو په اړه ډیر مجلس وکړی، وروسته جلال اکا ورته وویل ته دا غمجني کیسې ایله کړه یو سګریټۍ ډک کړه.

سګریټۍ ډک سو انورماما وو جلال اکا ښه ډیر ښکنځل نورو سګوانانو ته وکړه، جلال اکا پر وه انور ماما ته وروارډوی، انورماما سګریټی کش کړی، یو شعر یې وویلی چې پر موږ لګیږي پر ودي ښکیږي، دود یې د زامنو خوا ته ور پو کړی، ویې ویل ښه کوئ زامنو د مشرانو لار تعقیب کړئ هیڅکله به پر شا رانسئ.

نو ماویل پښتانه که هرڅومره بد وي بیا هم ځان ښه بولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پرمختک په نوم چټيات

پيرک واي انډيواله پرمختګ نسته.

ورته وام ولې؟

واي خلګ چې طياري په هوا کړي نور يې تشويق کوي، موږ چې کاغذباز په هوا کړو ټوله کلی ښکنځل راته کوي.

دغه دوی خپل پرمختګ بولي.

## هر څوک د نمک نوم استفاده کوي

سخت ډير مې وخندل، دا د بازار تشنابو ته ورغلم، يو ځوان راووتی تشنابو والا ته واي لسی درکوم، دی ورته واي شل غواړم، تشنابو والا واي اول چني نه وهي چې ځان هوسا کړي راووزي چني وهي.

واي در شل کم نه کيږي موږ ته هم شی نه کي راپاتيږي.

ماور ږغ کړه ماول هو تيل ګران دي، دوی ته هم شی نه کي ورپاتيږي.

خلګو پر وخندل..

ول خره نمک حرامه ياست اول مو ولې ږغ نه وي چې راووزئ خبري مو شروع سي .ماول رزيله په اخراپو تشنابو تا څه روشونه په موږ وخوړل چې وا نمک حرامه ياست.

در داغه لا خلګو پر وخندل.

اخر يې جنګ کوی باره ماول خلګ به واي پر تشنابو يې سره جنګ دي.

اوس خلګ په هره موضوع کي نمک رامخته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځینو ته مهم**

پیرک خاموشه ناست دی، ورته وام هلکه ولي داسي مایوسه یې؟ واي پول مي طبیعت په خراب دي .

وام ولي؟.

واي موبایل مي ورک سو ډیر مهم شیان مي پکښي وه.

ورته وام اعلان به درته وکړم، رشتیا هم ځیني مهم اسنادونه وو شیان چي ورک سي بېخي ګډوډیشن جوړ سي.

واي یا د اسنادو څه وو څه، چي اسنادونه واي د اختر ورځ وه.

ورته وام بل نو چیش داسي مهم دي؟

واي د کرم اکا د زوی سیدولي، د خان ګل اکا د میرمني او د جلال اکا د سپیانو  عکسونه پکښي وه .

ماول ولاړیږه احمقه.

خبیث دغسي مایوسه ناست وو تا چي ویل د پلار جنازه یې ورته راوړه .

په دا ټولنه کي دغسي خلګو هم ځاي نیولی دی.

**غلط ملګري**

پیرک واي دغه د ملګري د ورځي د لمانځلو سخت مخالفه یم دا فالتو کار دي.

ورته وام ولي؟

واي یوه ته مي سهار د ورورګلوي لاس ورکړی، ماسپښين يې ټليفون راڅخه غلا کړی.

د ورورګلوي لاس  هر چاته مه ورکوئ په دې دور کي.

**د تلواري کار**

نن پیرک داسي بي تابه ګرځي چي کښیني بیا ولاړ سي، په پرتوګ کي یې لاس اچولی دي .ورته وام هلکه نن ولي داسي بي حاله یې واي زه خو نن غرق سوم ورته وام ولي خیر.؟

واي ملګرو مي زنګ راووهی چي راسه نن به په شورم کي ګپه وکړو، زه هم ور روان سوم چي ورغلم دوی په شورم کي پر جماعت ولاړ دي، ما هم بیداري کول ماول ژر اودس وکړه چي یو رکعت ورسره وکړي لا ښه دي، دا بغل ته یو سپین بوتل پروت وو ما چي پر حمله کړه استنجاه مي په ووهل هغه تیزاب وه.

اوس  زه چي وام در نامه لاندي یي په چاکوګانو وهلی یم، نه ډاکټر ته ورتلای سم د شرمه، نه مي پر ځای طاقت کیږي .

کله کله یو شی یو وار ګوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### د باندار دوښمن

یو میلمه راغلي وو، زما د پلار انډیوال وو، د ایران د شپو کیسې یې راته شروع کړي، زه په فیسبوک اخته وم میلمه ته مي پام لا نه وو، بیا به مي یو ږغ پر وکړی مرتضٰی استاده خداي دي راوله چې دیغت ونه کړي، یو څلور پنځه واره چې مي ورته وویل، اخیر یې ول غبۍ خر او رزیل زه یم، ما د خپل ژوند نیمایي کیسې درته وکړي، او ته وایي چې د یغت ونه کړي خداي دي راوله.

ټوله باندارونه او محفلونه فیسبوک او ټلیفون خراب کړي دي.

### د زمري په پوښ کي چغال

زموږ په کلي کي دري ورونه وه خورا کش وش ګرځیدل، سري مزاري خولی یې هم پر سر وي، شني داني به یې په غاړه وي، نومان یې دي ننګیالی، توریالی، زمریالی .

یو بل ځوان د خدای عاجزه دی، خلک یې چغال ګلو بولي، یوه ورځ یې ددا ننګیالیانو سره جنګ سو، ټولو ننګیالیانو د چغال ګلو څخه ځغستل.

خبره مي دا کوله دا کش وش چې ځي د خداي تعالي یوه لار ولاکه لري.

### د پیر ګټه ډیره او اخلاص یې کم

د پیرصاحب دربار ته ورغلی وو، چاي راغلي په لسو نفرو یې یو کوچنی چاینبر چای راوړي، پیرک بیا د چایو ډیر شوقي دی، زما سر په خلاص سو چې پیرک ته کوچني چاینبر خوند ورنه کړي.

پیرک جذب سو چې دا جذب سو اول یې ګروپ مړ کړی، ناري سوي دربی سو یو دوه نور جذب سوه یو وخت چې ږغ وسو چې ګروپ

ولګوئ پیرک مو هم ټینګ کړی سم سو.

چې ومو کتل چاینبر او ګیلاسونه وچ دي، پیرصاحب ته ماول هغه چای څه سوي؟

پیرصاحب ول هغه ما پیرانانو ته وویل هغو د کوهیکاپ په غره کي چپه کړی، ماول دا مریدان ځانونه په ونه سوځي.

ددغه خبري په کولو سره دري څلور ور وغورځیده د پیرصاحب پښو ته ورولویده.

چې راووتو پیرک ته ماول ته رشتیا جذب سوي ول یا دا احمقانو چای لږ راوړي وي، قصدا مي ګروپ مړ کړ، هغه چای ټولي ما په تاریکه کي وچښلي دوی ولي دونده کوچنی چاینبر چای راوړي.

پیرصاحب ویل دا ما پیرانانو ته وویل هغو د کوهیکاپ پر غره چپه کړي.

زموږ هدف یوازي ټګان دي د پیرانو په نوم، اما اصلي پیرانو او ښو خلګو ته احترام لرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ډاکټر حقایق**

د پیرک ملا خوږېدله د هېوکو ډاکټر ته ورغلی ؤ.

هغه ورته ویل تشویش مه کوه !ستا علاج اسانه دئ.

کله چې یې نسخه ورولیکل، په نسخه کې یې یو جوړه ولچک ورولیکل.

ویل یې د شپې چې بیدېږې خپل ځان ولچک کوه.

پیرک ویل ددې زماني عجب ډاکټران دي !زما ملا خوږیږي دئ ولچک راکوي.

ډاکټر ورته ویل خبره پاکه ښه ده.

ته د لاس خواري کاږي د شپې چې په ځای کې پریوزې، لاسونه تړه !دخواری کښلو څخه به خلاص یې ملا دې خپله جوړیږي.

پیرک ول در ووزه دا رزیل خو په شرمو وشرمولم ټول حقیقت یې راته بیان کړ.

**اوسني مینان**

یو رقم ټلیفونه دي اواز اړوي.

پیرک ته مي ټلیفون وروکړی د ښځې په اواز کې.

وایي څوک یې ورته وام یو چا دې نمبر راکړی دربانده مینه یم .

واي ددې خبري ثبوت راکولای سې؟ چې ته نجلي یې؟ ورته وام دا د سینګار دوکانو ته راوتلې یم راسه ما به ووینې.

یار لالا نو ښه ځان ساټ وو باټ کړی دي حمام یې کړی دئ.

زه پر یو دوکان ورته ناست یم وایي کمه یې.

ناکي ښځه مې وروښوول ماول دغه یوه زه یم.

دئ هم په پسې سو څو دقیقي بعد مي زنګ وروهئ ماول بالا ولاړ سه ! زموږ کور رانژدي سو.

بیا یې ټلیفونونه راکول راته ژړل یې چې زه پر تا عاشق یم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د مجرد خوښه**

پیرک ته وام ستا د خوښي

لیکوال یا شاعر څوک دئ؟

فکر مې کوئ چې رحمان بابا یا هم نصیراحمد احمدي

به را یاد کړي، دئ رزیل راته وایي

هغه د واده د اولي شپې کتاب چې یې

لیکلي دي.

**ګل یعني ته چپ سه**

پیرک نورو خلګو ته کیسه شروع کړي ده!

شاه فیصل پر راوغورځیدئ وایي ستا په خوله کي خبره ده په ګل دي بدله وي.

پیرک ورته واي ګل یې څه و څه .د کیسي خوند او زما سور دي را خراپ کړي ، بالا ته غریږه زما کیسه ولاکه یو لا واوري .

ګرده عمر په کیسه یا بانډار کي دا د ګل موضوع مه تکراروئ .

**موږ او نړۍ**

د نوري نړۍ کوچنیان:

هلکه څوک یې؟ او ولي داسي ځغلي؟ الیکس یم، د پاول زوی ځم د ښوونځي ناوخته دئ.

او زموږ دا: هلکه څوک یې او ولي داسي ځغلي رډی یم د بډک زوي ، دا همسایه ګانو د رزیل زامنو زموږ کوتره نیولي ده دوی نوي رابار سوي دي موږ سم نه پیژني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## جنسي وړي

د جلال اکا باندار ته ورغلم.

سترګيې يې لوېدلې دي مخ يې تک ژړ دئ.

ورته وام خير دئ؟ څه درسوي دي؟

واي دا ډير وخت په پيرک پسي وم.

ورته ويل مي چي هغه ګولۍ راپيدا کړه چي تناسلي آله غټوي.

پيرک راته ويل چي؛ ندي رامعلومې.

ما ډير په عذاب کړئ.

پرون يې ګولۍ راوړې ما چي وخوړلې در نس يې ايله کړم .

## د تنګسي مسلمانان

پيرک وايي که دي پياد دي يو وخت هغه سره دوره راغله ټولو خلګو ويل چي دغه د عذاب وو قيامت علايم دي.

نو پيرک وايي په دغه ورځ زموږ د کورنۍ غړو چا نفلونه کول چا تلاوت کوئ چا درودونه ويل.

ما هم يو کتاب مخ ته نيولي وو ماول خدايه ددغه کتاب په روي سره پر موږ عذاب مه راوله.

يو وخت چي دوره ودريدل، چي ومې وکتل د واده د اولې شپې کتاب مي په لاس کې ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## چپک ملګری

زما يو چپک ملګری دي .زه يي ډېر په عذابوم.

چې خبري درته کوي ګوري هغه بل ته ګډ تاته وي.

پرون زه وو جلال اکا په بازار کې روان يو، يو چپک ملګری راباندي پېښ سو ګډ ماته دئ ګوري جلال اکا ته.

وايي چيريي سوسته چي ورک يې زه قصداً ږغ نه کوم.

جلال اکا ورته وايي شرم وکه!

هغه بيا ګوري جلال اکا ته ماته وايي سسته اوس شناخت لا نه کوې.

جلال اکا ورته وايي سست دې پلار دي سست ته يې!

په دغه حال کي چي دوی لاس سره اچوئ ما سره ټينګ کړه .

جلال اکا ته وايم دئ چپک دئ، زما سره ګډ وو.

جلال اکا خوابدئ سو واي هر وخت ستا دلاسه زه بې عزته يم.

## بخيل خلګ

يو ملګری مې په بازار کي د پرچون دوکان کوي.

ناري وهي چي ورغلم وايي ډېر ناځوانه يې !دا زموږ غريبانو دربار ته نه راځې .ورته وام دغه دئ اوس راغلم.

وايي انرجي درته را واخلم که يخي اوبه؟

زه ورته وام شئ لانه خورم

پلار يې سترګه ورته ووهل وايي د پريج شيان تاوده دي

چای ورواچوه.

سخت درد راغلئ..

چې چای يې راواچولې زه هم ورولاړ سوم هغه ښه بيسکوټ مي درې داني راواخيستل ومي خوړل د چای سره .

پلار يې غاښونه زوی ته چيچل، چې زه را ولاړ سوم خدای خبر چي څه عمل به يې ورسره کړی وي !

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هوښيار عسکر

يو ځوان پر تلاښي راوګرځوم.

وايي دا موټر داسي ځغلوي لېسنس دې ښکاره کړه.

هغه د ډاکټر نجيب د شپو  د پلارتذکره راسره وه.

ورښکاره مي کړه.

وايي دا لېسنس خو جعلي دئ!

ماول ته ئې يو وار راسته ونيسه بيا ئې جعلي وو اصلي معلوم کړه.

## ړانده عاشقان

د پيرک سخت طبيعت خراب وو، ورته وام هلکه ولي داسي يې؟

وايي: پر خپلو هغه تيرو کړو پښيمانه يم چې په تيرو دوو کالو کي مي کړي دي.

ورته وام په موضوع مي پوه کړه!

واي دوه کاله مي مسجان ورسره کول مينه مي ورسره درلوده، يوازي مي د څلويښت زرو افغانيو کارډونه ورجمع کړي دي، نوم يې ستاره وه نن چې مي وليدل خره لا پر ښايسته وه .

ماول رزيله ته اوس هم بختور يې انجلۍ يا ښځه خو ده، د خلګو دا دوه يا دري کاله بعد يا نظرماد کبابي وخېژي، يا ګلو بايسکل ساز وخېژي .

فيسبوکي عاشقي داغسي وي.

## د مجرد هيلي

پيرک وايي  نن فساد راوسو.

ورته وايم ولي؟

واي يو توري سترګي مي وليدې، د زرنج په باډۍ کي يو دانه ناسته وه، لاس يې راته وښوروی، ما هم موټرسايکل پسي چابک کړی د سترګو اشارې مو سره کولې، ښه در ډيره  پسي ولاړم يو وخت چې زرنج يو کور ته ودريدی زه هم ورته ودريدم چې ورته ومي کتل هغه د چارګل اکا زوی شيرعلي وو تور دوسمال يې پر سر اچولی وو .

راته ويل يې ول راځه غرمه به زموږ سره تيره کړې، ماول ورک سه رزيله، نژدي وه چې په موټرسايکل مي ځان غورځولی واي .

ددې دوري سټايلونه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خراب ستاپلونه

د پيرک مخ پړسيدلي دي.

ورته وام ولي هلکه دا څه پيښه ده؟

يو څه ناکوجاتي يې وويلي بيا يې کيسه راته شروع کړه:

واي پرون د جمعي لمانځه ته روان يم تلوار مي دی په دغه حال کي د يو زناني سره وموښتم ما چي يې غټ وريښتان وليدل فکر مي کوی چي زنانه ده، ما ويل بخښه کوه خورجاني، چې مخ يې راواړوی يو بريتور ځوان دی غټ وريښتان يې دي.

ويل يې احمقه رزيله زه تاته خور ښکارم .

نوره کيسه يې نه راته کول، خداي خبر څه سوکان يې وهلي وو، لکچي پر وسله وال کس پيښ سوي وو.

## بې معنا خبري

شيرين اکا راسره ناست دی، يو هلک تيرېړي راته واي دا هلک مي سخت خوښيږي .انتيکه اننګي يې دی سخته لبان يې دي.سترګي يې وژل کوي، چې درسره سپور وي د ارغنداب يا هم پنجوايي په باغو کي ګرځې.

لس دقيقي بعد يې کشر زوی د بل صوفي سره پر موټرسايکل سپور دی ورته وام شيرين اکا دا څه وينم، واي دغه رزيل صوفي که مي ونيوي په اور يې سوځم .

ماويل ګوره شيرين اکا لس دقيقي مخکي دي د بل پر هغې خوند اخيستی اوس دي خپل عزت برباد سو، ويل يې زه مازي احمق يم.

خبره مي دا کوله خواهشات هغه وخت کنټروليږي کله چي مو بدکاري ته هوا وسوه د خپلي لور، خور يا هم زوی او ورور عزت په فکر کي راولي.

## ناصالح اولاد

د پيرک دوی کوټې ته ورغلم، پيرک ته وام ټليفون دي ولي بند دي؟

واي ټليفون مي خراب دی.

واي شی چي زوړ سو يا يې کچره دانی ته غورځوه، يا يې در پښه لاندي کوه.

دا بغل ته يې پلار ناست وو د چمپل وار يې پر وکړی، ول ولاړ سه د احمق زو داغه عزت دي راکړی.

يا مي در پښه لاندي کوې، يا مي کچره دانۍ ته غورځوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پیسو غلامان

پیرک واي بېخي دوه مذهبه خلګ سته زموږ په ټولنه کي.

ورته وام لکه څنګه؟

واي کله چې یو غریب د انجونو شوقي وي، دوي ټول په مردګو ورته وایي .او کله چې یو پیسه داره د انجونو شوقي وي، دوی سره وایي واي دا حاجي صاحب عجبه ښه سړی دی، بس یو لږ د انجونو شوقي دي، هغه یې موږ څه کوو.

## ځان ته غټ ویل

پیرک واي زما لپاره ترټولو مایوسه کوونکې ورځ هغه وه، کله چې دوولس کلن وم، ما د مداسلم اکا لور ته د میني په سترګه کتل، هغې راته ویل زوی جانه دغه لس روپۍ واخله د پنځو روپو ژاولي راوړه پنځه ته واخله.

## د چرسیانو فکر

یاره دا چرسیان هم انتیکي کوي، په کلي کي خړي اوبه راغلي دي، ددا مانده پر غاړه ناست یم، مامد کریم راغلی راته واي خورېیه دلته په دا کڅافاتو کي ګرځي درځه چې زه دي جنت ته بوزم .

ورته وام درځه، روان سو د مامد کریم دوی کوټې ته ولاړو چمن یې شین کړی دی، د چمن پر غاړه ګلان دي هلته کښېنستو.

مامد کریم چای راوړې سګرېټیان یې ووهل، چای مو وخوړلې، زه ورته وام زه ځم کار لرم، واي ولاکه ګام لا واخلي اوس بورا راځي هغه دربانده وینم .

زه هم حیران سوم فکر مي کوی چې دا بورا به پیری وي، نجلۍ به وي بل کوم غټ حیوان به وي؟ دري ساعته مي په انتظار تیر کړه ماته واي اوس یې وخت دی په زوره بړغ مه لره.

یو ساعت مي نوره هم خاموشي اختیار کړه که ګورم یو ژړ مچ راغلی بوزهاري یې دي، پر ګلانو کښېنستی ماته واي سبحان الله بورا لس دقیقې مخکي راغله بخت دي کار کوی.

پر سترګو مي ورته توره شپه سوه ماول رزیله ددغه یوه مچ لپاره دي څلور ساعته کښېنولي وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لړم نه چغال

پیرک واي یو نفر په کوڅه کي کش وش روان دي، زه ورته وام هلکه څوک یې؟

واي موږ اوس نوي رابار سوي یو،.

ورته وام نوم دي چیش دی.

واي نوم مي لړم خنجري دي.

برچه یي په ګنډه وهلي ده واي دغه مي انتخابي نښان دي .

تازه د پلچرخي د زندان څخه رایله سوی یم، دري مړي مي کړي وه .

په دغه حال کي د واده ټکان وسوه.

ما وځغستل خنجري زما در مخه وځغستل، د شیرمامد کاکو په کور ننوتی، د ها خوا یې د کوره په لغتو وو سوکانو راوایستی، شیرمامد ورته واي څوک یي د احمق زو چي په کور راننوتي، دی ورته واي لړم خنجري یم دلته ټکان وسوه.

هغه ول د احمق زو دا خو لا خنجري هم یي چي داسي بي ننګه یي .

شیرمامد کاکو ول پیرکه ته دا خنجري وګوره څومره زړه ور دي بدماشي دده څخه زده کړه.

## زوړ ګنهګار

تازه ګل اکا ته وام تاته چیش سکون درکوي، فکر مي کوی چي دی به ووایي چي د جماعت لمونځ د مولوي یاسین یا ابوالفیض نصیحتونه،

یا هم د مور او پلار غېږ او یا هم د هغو خدمت.

دی احمق راته واي شني چای او صندل، د کوټې پای د زرسانګي او ګلنار بیګمي غزلي او د یار محمد اکا د زوی پر ځنګون باندي سر.

ځیني زاړه سوه سړي نه سوه.

چي دغه زاړه ګنهګاره ورک نه سي ټولنه مو نه اصلاح کیږي .

## د وطن نه، د سپیو عاشقان

جلال اکا ته وام هغه کم غم وو ستا په ژوند کي، چي ته یې ډیر مایوسه کړې؟

فکر مي کوی چي دی به راته ووایي چي د مور او پلار غم یا هم د هیواد غم.

دی رزیل راته وایي ترټولو ډېر غمجن حالت او غمجنه ورځ مي هغه وه، کله چي هغه زما قمرغاړی سپی مړ سو، د هغي ورځي څخه مي بیا ولاکه په سګواني کي جګ کتلی دی، نه مي ولاکه میدان ګټلی دی، زه یې د عمر لپاره مات کړم .

ځینو ته بیا سپی تر مور پلار او وطن هم ورتېر وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په بد کار فخر کول

زه ، پیرک او کبیر پرون یو ځاي میلمانه وو، کور والا راته واي دباندي یخ دي دننه بیده سئ، موږ ویل سمده، چې کوټې ته ولاړو پریوتو ګروپ مړ سو په دغه وخت کي د یوه ځخه باد پري سو، ما ږغ کړه ماول دا کم سست واچوی؟

پیرک ږغ کړه وایي ما واچوی دغه ځیګر ، ځان یې وټکوی .

په دغه حال کي د کور خاوند څیراغ ولګوی واي کم ځیګر، پیرک سر په توس کي پټ کړی درسهاره یې سر نه دی لڅ کړی سهار د اذانو سره وتلی وو.

پیرک فکر کوی چې یوازي موږ ملګري یو بل څوک نسته هغه کور والا هم دلي پروت وو.

## د مور لپاره سم زوی هم مریض وي

د پیرک دوی کره ورغلم دروازه مي وروټکول، مور یې راووتل ورته وام موري پیرک چیري دی؟ واي هغه سخت مریض دی، دوې ډوډۍ څلور ایشیدلي هګي او یو څه میوه یې وخوړل بیده سو .

ورته وام موري خوراک یې ندی کړی، واي هو داسي مي خوا په بده ده مړ نه سي .

ماول دا خبیث خو لا مریض دی، کني انسانان یې خوړل.

## د زور مسلمانان

د یو نفر سره مي د پیسو حساب وو، ورته وام حاجي صاحب هغه زما پیسې راکړه، واي نه یې درکوم لاس دي خلاص توره دي تیره.

وام مه کوه حاجي صاحب بیا به ارمان وکړي.

پوښتنه یې وکړه هلکه ته څوک یې؟

ماویل د قومندان خوریي یم کرار یې وخندل په جیب یې لاس چخ کړ پیسي یې راکړي .

ویل یې زموږ ماما یې کني ژر مي نه درکولي.

چې پیسي چې مي حصول کړي ومي ویل حاجي صاحب تاسي د خدای څخه نه بیریږئ د زورور او یا هم واکدار څخه بیریږئ، زه د قومندان هیڅ نه یم یو غریب سړي یم.

بد بد یې راته وکتل ول ورک سه رزیله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د بل شرمول**

د جلال اکا کره میلمانه یو، د جلال اکا زوم هم راغلی دي په میلمستیا، جلال اکا غواړي چې پر خپل زوم ګپه وکړي کم یې راولي، خپلو لمسیانو ته وایي په تاسو کي کم یو د حمار زوی دي.؟

د جلال اکا کوچنی زوی راوغورځیدی واي زه د حمار زوی یم .

موږ ګردو سره وخندل جلال په شرمو وشرمیدي .

همیشه د بل د بیعزتي هڅه مه کوئ کني خپله به بیعزته سئ.

**د ټولني خرافات**

یو ملګري ته وام په دې نړۍ کي ستا د خوښي ځاي کوم یو دي.؟

فکر مي وکړي چي دی به راته ووایي چې جماعت یا د مور غیږ.

دئ احمق راته واي تشناب دي .

فیسبوکي عاشق دي.

**بهرني لفظونه کارول**

جلال اکا ته وام دا شاه ولي کاکو سخت ده حمار عادتونه لري.

جلال اکا راته واي زما پلار دي خداي د ټول مسلمه امت سره وبخښي زما د پلار هم زیات عادتونه د شاه ولي کاکو وه، زه چې شاه ولي کاکو ووینم د خپل پلار مینه مي په ماته سي.

دی رزیل چي وای دا حمار یو ښه سړي ته وایي.

**د بل په غم خوشحالي**

د یو نفر مور مړه وه ټلیفون یې راوکړي ویل یې نن یې ختم دي خاماخا راسئ، ما ویل سمده .

زه وو پیرک ورغلو دعاوي ، او ختمونه وسوه کله چي د ډوډۍ وخت سو، سترخوان هوار سو، پیرک ماته مخ راواړوی وایي سخته روبه ډوډۍ ده، خداي دي یې پلار هم مړ کړي چې بیا یې ووهو.

زه پیرک ته سترګي وهم چې ږغ مه لره دا بغل ته ناست کس یې زوی دي، پیرک بیا ووایي.

اخر یې د زوی حوصله ختمه سوه وای ولي داسي کوي د یوه نس ډوډۍ لپاره مي پلار را وژني ډوډۍ به مفته دربانديي وخورم ښیراوي مه کوه.

دغه پیرک د احمق زوی زه په شرمو وشرمولم .

ځیني د خیرات لپاره خلګو ته د مرګ دعاوي کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بېځایه شک

مد اشم ټلیفون کوي، پیرک بغل ته نژدي ورغلی  غوږ یې ورته ونیوئ، وایي اخ سخته نازک اواز یې دي، څنګه اندامونه به یې وي، ناځوانه ښه ښه شیان یوازي استعمالوي موږ ته ست لا نه کوي، دغه یې انډیوالي د بازار رنډۍ ده، دی یې موږ ته نمبر نه راکوي .

مداشم چې ټلیفون خلاص کړي مخ یې بد ونیوی خواشینی کښینستی.

پیرک ورته واي زویه د یوه نمبر مي درته وویل خوابدی سوي، ډیر ناځوانه یې.

مداشم ورته واي واخله دغه نمبر پیرک وخندل ژر ژر یې نمبر په ټلیفون کي ووهی .مداشم ورته وویل دغه نمبر زما د مایني دي که ټلیفون ورکوي که یې نه ورکوې  نور ستا کار دي.!

مداشم وویل که یو چا د خپل فامیل د یوه غړي سره ټلیفون کوی، تاسي فکر کوئ چې مردګو دی یا هم د رنډۍ سره ټلیفون کوي.

خاموشي اختیار سوه پیرک وویل در ما فسد او کمزوري انسان نسته.

## بد هر ځای بد وي

زه وو پیرک روان وو، په بازار کي د یو لغړزني او صوفي سره جنګ وو، چې ور وګرځېدو پیرک هغه لغړزنی د شا د خوا ټینګ په غیږ کي ونیوی، ورته وایي ته خو سم ابداره ځوان یې د ناکي احمق سره دي جنګ دی، صوفي پیرک ته ول رزیله ده ته څه نه وایم تا ولاکه پریږدم.

## کهاله خلک

زه چې به د شپې بیدېدم د اوبو غټ ګیلاس به مي ډک سر ته کېښودی، یو څه نامرده یم د شپې مي د لاسه نه کیږي چې د خوبه راکښېنم ګیلاس ډک کړم، پرون چې پریوتم ګیلاس مي ډک کړی وو، د شپې داسي ټینګ تږی سوم، که فکر مو وي چې سړی د خوبه راکښیني اوبه خورا ښه خوند کوي

چې راکښېنستم اوبه مي داغسي پر سر پورته کړي، کله چې ګیلاس وچ سو شونډانو ته مي یو شی راورسیدی، چې ځیراغ مي پر ولګوی موږک ورلویدلی دی، دلي کي مړ دی ښه خیشت یې هم خوړلی دی، ګرده ورځ مي خوا راګرځیدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ناخبره او مغروره خلک

کت فرانسوی یې په پښو وو، ګز او بر روان وو، ریکارټ صدری یې اغوښتي وه، په غلطي کي ورڅخه وموښتم ما ویل بخښنه کوه وروره.

بد بد یې وکتلووایي  ته ما پیژني؟

سخت درد راغلئ، ما ویل هو د سوست عبدل زوی یې، پلار دي په هلکوانو پسي داسي ګرځیدی لکه په دوښمن پسي.

خلګو پر وخندل.

نو ماول احمقه تا دغه خبري ته مجبوره کړم.

## مختلفي ژبي

د دوو وردګو سره جنجال وو، یوه ورته ویل د ګوز خانه تا ورخرابه کړه، بل ورته ویل د ګوز خانه تا ورخرابه کړه، پیرک ویل دا څه بي عقلان خلک دي پر ګوز یې سره جنجال دي شرمیږي هم نه، ماول رزیله دوی ګاز ته ګوز وایي.

## بیغیرته شوقیان

د جلال اکا سره ناست وم کوچنی لمسی یې راغلی ورته ویل یې نیکه جانه انا وایي دوه سوه افغانۍ راکړه زه چیلکي په رانیسم، په کوچني پسي یې ډبره وغورځول ویې ویل ځي د خره زامنو په هغه ډیرو فرمایشو روپۍ لا نه لرم.

شل دقیقي بعد یې زوی ته دري سوه افغاني ورکړي ول ورسه سپي ته غوښي په راوړه، ماته یې مخ راواړوی ویل یې را روانه جمعه سګواني ده چي ومي نه شرموي.

ماول احمقه کور والا دي شرموي سپی نه.

## د جنت شوقیان

تل به یې ویل د شهادت د مرګ ډیر ارمان لرم، هغه شعر به یې هم زیات اوریدي .

د شهادت خوږي مرمۍ په انتظار یمه ستا.

کډه به وړم له زندګی په انتظار یمه ستا.

کله چي د واده ټکان وسوه په تشناب کي پټ سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بې تربيې ماشومان

بښخي ډېر مي وخندل، زه وو پيرک په کوڅه کي روان یو، يو څو کوچنيان په يو ليونې پسي ځغلي او ډبري پسي غورځوي، پيرک کوچنيانو ته وخښمېدی ورته واي که ستاسي پلار پر دغسي حالت وي يو څوک يې په ډبرو ولي ستاسي غبرګون به څه وي.؟

په دا کوچنيانو کي يو خورا رزيل وو، ورته واي نو دی ستا پلار دی چې داسي خوا په بدوي.

ګردو کوچنيانو زما په شمول پر پيرک وخندل، پيرک ته درد ورغلی په کوچنيانو پسي يې ډبري وغورځولې ، ول تاسي ټول د احمق زامن ياست.

## فيسبوکي اتلان

پر ځای ټاکنه، د وياړ ځای دي ماما يا کاکا يا اکا مي په پلاني ځای کي په دنده وګمارل سو، حقيقت هم د ماما په پوه او وړتيا کي شک نسته.

ماما به يې نو دردا څټه خر وي، يا به واسطي او يا به هم پيسو دغه ځای ته راوستلی وي.

## ناکاره مشران

د جلال اکا کوټې ته ورغلم، يو بل سپين ږيری هم ورسره ناست دی.

در سلام عليکم وروسته يې چاي راواچولې، دوی خپله کيسه بيرته شروع کړه.

هغه بل سپين ږيری جلال اکا ته واي بښخي پر ليونې ځواني وو، سخت مي ارمان دی ولا دا ټوله ميدان به په بښايسته وو.

زه سخت وارخطا سوم، وام خدای دي يې وبخښي خدای دي جنت الفردوس ورنصيب کړي، دا څوک وو چې ټول ميدان به ښايسته وو غيرباز وو که اتڼ باز وو.؟

سپين ږيري خبيث واي زما سپی وو پرون مړ سو.

پر جلال اکا مي مخ راواړوی ماول زه داغسي رزيل يم چې تاسي رزيلانو ته راځم، په ما مو سپي ته دونده دوعاوي وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### بي علمي او بيسوادي

پيرک راته واي چيري تللي وي؟

ورته وام تللي وم بيت الخلا ته.

واي رب دي د هر مسلمان نصيب وکړي بيت الخلا ته.

بيت الخلا په عربي کي تشناب ته وايي.

دی چي واي بيت الخلا يو مقدس ځای ته وايي.

### وينه راکړه

پيرک واي د شپي بيده يم ناري دي، يو واي وينه راکړه بل واي بام ته راوخيژه.

د زړه مي درب چي خدايه کور ته غله راوښتی دي څه مشکيل دي.

خو خير په بد حالت کي ور ووتم په کوټه کي ناري دي چي ورغلم ورونه مي په کوټه کي پاڼچي ګيم کوي.

ماول ورک سئ د احمق زامنو پر ما مو يو مرګ تير کړي.

### د هلکانو مريدان

پيرک وايي سره غرمه ده هوا ګرمه ده، د والسوالۍ څخه ليري تللي يم، يو ساعت ودرېدم هيڅوک موټر نه راته دروي، آخر مي دوسمال پر سر وپيچي ځان مي د کشر هلک رکم جوړ کړی، که ګورم يو فيلډر موټر راغلی چي دا لاس مي ورکړی داسي بريک يي پر ووهی هسي يي نه کړی چپه.

خو خير وروختم هنداره يي زما خواته سمه کړه، پر لاري يي انرجي هم راته راواخيستل، کله چي مي ورته وويل چي زما ځای راورسيدی ما دلته کښته کړه.

ويل يي ګام لا ولاکه واخلي نن زما مېلمه يي.

ما مخ ورښکاره کړی، ويل يي رزيله ژر کښته سه وخت دي راضايع کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ځان صفت

د جمعي په ورځ  مو ډوډۍ کړې وه، یاران وايي آشپزي به ښوک وکړي ما ویل تر ما بل ښه آشپز نسته.

کله چې مي دیګ شروع کړئ، د مالګي پر ځای مي پوډري صابون وراچولي دی، دیګ ځک راپورته کړ، چې فکر مي ووهی ماول کار خرابیږي، دوی ته ماول یارانو ماته کار راپیښ سو زه ولاړم.

دا بله ورځ چې مي ولیدل خوابدي وه یو وو نیم.

## کورنی نزاکت

پیرک واي د پلار ورځ مي په دا خاطر نه ولمانځل!

ځکه چې په دا ورځ زه پلار بندي کړي وم.

## بي نزاکته خلک

پیرک زهیر ناست دی! راته وایي دا ښو ورځي کیږي سم کارونه مو چپه روان دي!

ورته وایم صبر وکړه د پیسو تاوان مشکیل نه لري چې ورور دي د ټکر ښخه روغ ووتي.

واي یا هغه نه ښییم ، ورته وام خیر پروا نه لري د پلار مریضي به دي هم خداي ښه کړي صحت به پیدا کړي ..

واي یا وروره هغه هم نه ښییم .

وام ښه ته ښوک ښیي؟

واي کشر وراره ته مي مسج وکړئ، ښو ښکنځله مي ورته وکړه چې ومي کتل د هغي خوا مسج راغلي ول د سپي زو چي په ژوند په مخه رانسي چي ومي کتل د وراره پر ځای مي د خان ګل اکا مشري میرمني ته مسج کړي وو.

اوس نو دغه ته ولاړ یم چي ځان وژنه وکړم.

د احمق پلار مریض دي هغه مشکیل نه بولي د ورور لاس یې مات دي هغه مشکیل نه بولي .

ښو چمپله مي وویشتي ولاړیږه ما ویل د نا اهله زو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حمله يي عاشقان

هلک: جان زه مړ کيږم!

نجلی: هيله کوم مه مړ کيږه،

يو دانه کارډ راواستوه.

بيا مړ سه!

## د کور نامي

پيرک واي په هغه ورځ ځان بيخي احمق راته معلوميږي!

کله چي د کور په سودا کي يوه روپي هم راپاته نه سي.

او ملګري راته ووايي چي ظالمه مزي تا وکړي.

## اوسني حالت

پيرک واي هغه وخت ډير مايوسه سوم.

کله چي مي پلار د جيبه د پيسو بسته راوکښه زما تمه وه چي ښه ډيره خرچه به درکړي. برياني مي په سوچ کي راوستل پر شونډانو مي ژبه تيره کړه ..

خو پلار مي پيسي حساب کړي جيب ته يي ورواچولي .

ول دده څه وو څه بيخي ګراني سوه.

ماته يي مخ راواړوئ ويل ډير احتياط به کوئ حالت خراب دي چي په اوبو شپه تيريږي، تيروي يې خو پيسي مه مصرفوئ!

## خراب فکرونه

د جمهوريت په شپو کي يو ګل خان راوښتی وو افغانستان ته، عسکر ورته ويل راشوه سه تلاشي راکړه.

ګل خان ورته ول بيخاره تلاشي راکي وکه!

زه هم ولاکه داسي خاص مسلمان يم.

ده کوسچيزن دا فکر کوي چي دوي کافران دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نالیدلي عاشق

د فیسبوک عاشقی داسي ده لکه لاټری.

ته به شاپیري غواړي هغه منګل درته راووزي.

## احمق کوربه

یو میلمه راغلی وو،

د بیچاره څخه باد پري سو , پیرک پر را بړغ کړه ویل نوشیجان بیخي ډیر مو وخندل .

ما ویل احمقه خو ته وا روش یې وخوړئ.

## روژې ته چم

د پیرک نیکه په روژه کي ډیر تږي وو.

لمسیانو ته یې ویل چي تاسي ماته په زوره په خوله کي اوبه را واچوئ زه به یې چیښم. لمسیانو یې همداسي وکړه.

نیکه یې ناري وهلي چي خدایه ته خو مي ویني د ظالم سره هیڅ نه کیږي .

## بي نزاکته اولاد

پلار: زویه ته خو به نه تږی کیږي په روژه کي؟

زه خو نن سخت تږي وم.

زوی: یا بابا دا دلګي په ما کي نسته .

## د جنګونو شوقیان

جلال اکا وایي: زه وو زوي مي نن په بازار کي روان وو.

د یو چا سره مو جنجال سو لنډه یې دغه چي جنګ مو سو.

اخ وو ډب شروع سو ، رش جوړ سو.

تر ډیرو سوکانو او لغتو وروسته چي مي وکتل کس تښتیدلي دي ، زوی ته مي سوکان وو لغتي کش کړي دي د پزي څخه یې ویني بهیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زموږ رهبران

واي زموږ او ستاسي د وطن يو مشر د بل چاسره ټليفون کوي!

داسي يې نه سوه ورته ويلای چي دادي

د دارالمعلمين مخ ته ولاړ يم،

ويل يې دادي د رب العلمين وه مخ ته ولاړ يم.

## د پلار بې عزتي

جلال اکا واي ددې دوري په زامنو کي ډېر ارموني هم خيژي.

ورته وام تر څه پوري دي وويل؟

وايي ماخستن په تشناب کي ناست يم زامن مي يو هغه بل ته واي ورسه دروازه وتړه.

دا يوه پر را ږغ کړه وايي چي هر يو دروازه تړي څه وو څه يې خو خير زه راووتم ورغلم دروازه مي وتړل.

چي سترخوان هوار سو دوي به يوه بل ته سترګه ووهل وبه يې خندل ويل هغه خبره ده.

واي اوس ته ووايه ارموني دي که نه دي؟

ما ويل ارموني لا پر ښه دي.

## په ځان کي خاريان

پرون د جماعت څخه راووتم

اخترګل اکا او يو څو نور ځوانان سره ناست دي.

زه چي ورته راغلم وايم سخته دوړي شروع دي لنده مځکه دوړي کوي.

اخترګل اکا وخبميدی وايي د دوړن او درواغجن څه وو څه.

زه ورته وام دوړي خونو دي، د مني موسم داغسي دي .يو ګوړئ باران وي بل ګوړئ دوړي وي..

اخترګل اکا غلي او مايوسه کښېنستي مځکه يې ګرول .

اخترګل اکا چي ولاړي هلکوانو په خندا شروع وکړه..

ورته وايم څه کيسه وه واي داسي خره درواغ يې شروع کړي وه.

ما ويل زما ولاکه دا خبيث ته فکر لا وو .

درواغجن خلګ خپله په ځان کي شکمن وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تشناب او ټلیفون

پیرک وایي: مینه کي ډیر جنجالونه سته، په تشناب ننوتم.

د جانو سره مي میده میده وایسونه شروع کړه.

لس دقیقي بعد دروازه یو سپین ږیري راوټکول

ویل د احمق زو.

دا تشناب دی د چای جواب ځای دی د مردګوی د فتر نه دی.

راوزې که دروازه در ماته کړم!

په پرتاګه کي راڅخه کیږي دا نیم ساعت کیږي درته ولاړ یم ته د خره زوی سر نه خلاصوي.

## زموږ رواجونه

پیرک وایي موږ دلته لا بدبخته یو،

په پنجابیانو یا هزاره ګانو کي چي د یوه ښځه باد پري سي ، دا نور یې تشویق کړي.

ماشالا، نوشیجاني تو .

او په پښتنو کي که یو بېچاره په ختا کي واچوئ.

دا نور یې ډرامه کړي

د هغه کس لمسي ته لا پیغور ورکوي.

د پیرک ښځه په باندار کي ولویدئ.

## ساده خلک

یو وطندار کور ته د ګریسو دبلئ وړی وو.

مور یې هګي کي ماتي کړي وې.

ویل زوي دي مړ نه سه ځنګه ښه د غوا غوړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**زموږ ځیني لهجې**

د پیرک  نیکه مریض وو.

ورونو یې دا یوه ورور ته وویل چې ته ورسه ډاکټر راوله.

دئ چې ډاکټر ته ورغلی هغه ورته ویل څه مشکیل دی؟

ددې پر ځای چې ویلي یې واي نیکه جان لږ مریض دی.

ویل نور خیر وو خیریت دی نیکه لږ سره ګوزک دي.

**زموږ روان حالت**

پر یو دیوال یې لیکلي وه:

سالم عقل په سالم بدن کې دی.

ددې لیکنې څخه شل متره لیري، د کوکنارو کښت وو.

**د ښځو نومان**

دا ښځې هم ښېخې پسخندیاني دي.

چې په کور کې ناشولته وو بدرنګه وي

دوی د ښایسته آغا نوم پر ایښې وي.

**ددې دوري مینان**

دوکانداره یو ښېغمه زړه په څو دئ؟

وزه د نا اهله زو.

دلته زړونه نه لري او دلبند خرڅېږي.

**بې نزاکته دوکاندار**

عجبه خره انسانان دي.

یو د ټوکرانو دوکان ته ورغلم

ښه به یې لاس د ځیګر څخه کښته په دغه ځای

ووهئ ویل حجانی تر دغه ارزانه شی ولاکه په ګرده ښار کې پیدا کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اوسني او پخواني دوولس کلن**

د اوس وخت دوولس کلن غواړي چي انجلي لاس ته راوړي.

زموږ د وخت د دوولس کلنو لپاره دغه ډيره غټه خبره وه ، چي کله به ميلمه ولاړ سو.

موږ به پر چاکليټو موقع ووهل.

# پای!

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**